چڑیا اور اندھا سانپ (پشتو)

# مرغۍ او ړوند مار



شَیخِ طَرِیقَت، اَمِیرِ اَہلِسُنّت، بانیِ دعوتِ اِسلامي، حَضرَت علّامه مولانا ابُو بِلال

مُحمّد اِلیاس عَطّار قادِري رَضَوي

دامت برکاتهم العالیة

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

# کتاب لوستلو دُعا

ديني کتاب يا اسلامی سبق لوستلو نه مخکښ دا لاندې دُعا اولولئ اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ څه چه لولئ هغه به مو ياد پاتې کيږي:

اَللّٰهُمَّ افْتَحْ عَلَيْنَا حِكْمَتَكَ وَانْشُرْ عَلَيْنَا رَحْمَتَكَ يَا ذَاالْجَلَالِ وَالْاِكْرَام

ترجمه: اے الله عَزَّوَجَلَّ په مونږه علم او د حکمت دروازې برسيره [يعني بيرته] کړې او په مونږه خپل رحمت رانازل کړې! اے عظمت او بزرګۍ والا!

(مستطرف ج 1 ص40 دار الفکر بيروت)

(اول او آخر کښې يو يو ځل دُرود شريف اولولئ)

طلب غم
مدینہ بقیع
ومغفرت


د رسالې نوم: مرغۍ او ړوند مار

اول ځل: ربيع الاول ۱۴۳۷ھ، دسمبر 2015ء

تعداد: 3000

ناشِر: مکتبةُ المدينه، عالمي مدني مرکز فيضانِ مدينه، بابُ المدينه کراچۍ.



مَدَني عرض: بل چا ته د دې رسالې د چاپ کولو اجازت نشته


## کتاب اخستونکي توجّه اوکړئ

که دَ کتاب په طباعت کښې څه ښکاره خامي وي يا پاڼړې کمي وي يا په بائنډِنګ کښې مخکښ وروسته لګيدلي وي نو مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه ته رجوع اوکړئ.


www.dawateislami.net

# مرغۍ او ړوند مار

دا رِساله ”چڑیا اور اندھا سانپ“ شیخ طریقت اَمیرِ اَهلِسُنّت، بانئ دعوتِ اِسلامي **حضرت علّامه، مَولانا، ابُو بِلال محمّد اِلیاس عطّار قادِري، رَضَوي** دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه په اردو ژبه کښې لیکلې ده.

مجلسِ تراجِم (دعوتِ اسلامي) د دې رسالې په آسانه پښتو ژبه کښې د وَس مناسب ترجمه کولو کوشش کړې دې. که چرې په دې ترجمه کښې څه غلطي یا کمې، زیاتې اوموموئ نو ستاسو په خدمت کښې عرض دې چه مجلس تراجم ته خبر اوکړئ او د ثواب حقدار جوړ شئ.

## پیشکش: مجلسِ تراجِم دعوتِ اِسلامي


برائے رابطہ:

عالمی مدنی مرکز فیضانِ مدینہ محلہ سوداگران

پرانی سبزی منڈی، باب المدینہ کراچی، پاکستان

**UAN:** ☎ +92-21-111-25-26-92 – Ext. 1262

**Email:** translation@dawateislami.net


www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

# مرغۍ او ړوند مار

شيطٰن که هر څومره ناراستي دروږلي خو دا رِساله پوره اولولئ اِنْ شَآءَالله عَزَّوَجَلَّ په هر حال کښې به مو د "الله عَزَّوَجَلَّ په رَضا باندې د راضي اوسيدو" جَذبه زياته شي.

## د دُرُود شريف فضيلت

دَ مَديني تاجدار، د رسُولانو سردار صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: چا ته چه څه مُشکِل پيښ شي هغه ته پکار دي چه په ما باندې په کثرت سره دُرُود اولولي ځکه چه په ما باندې دُرُود لوستل مُصيبتونه او تکليفونه لرې کوي. (اَلْقَوْلُ الْبَدِيع ص ۴۱۴ ، بستان الواعظين للجوزى ص ۲۷۴)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## مرغۍ او ړوند مار

دَ ډاکوانو يوه ډله د ډاکې وهلو د پاره يو داسې ځائ ته اورسيدله چه هلته د کهجورې درې وَنې وې، په هغې کښې يوه وَنه وَچه (يعني بې کهجورو) وه. د ډاکوانو د سردار بيان دې چه: ما اوليدل چه يوه **مرغۍ** د ميوه داره وَنې نه والوَځي او په هغه وچه وَنه کښيني او لږ ساعت پس بيا راوالوَځي او هغه ميوه داره وَنې ته راشي بيا د هغه ځائ نه والوَځي او بيا هغه وچې وَنې ته لاړه شي. دغسې هغې ډيرې چکرې اولګولې.

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک اونه لوستو، تحقيق هغه بدبخته شو. (اِبنِ سَنِی)

زه حيران شوم نو هغه وَچې وَنې ته ور اوختلم، څه ګورم چه هلته يو **ړوند مار** خُله وازه کړې پروت دې او مرغۍ د هغه په خُله کښې کهجوره اچوي. چه دا مې اوليدل نو په ژړا شوم او د **الله** عَزَّوَجَلَّ په بارګاه کښې مې عرض اوکړو: يا اِلٰهي يو طرف ته دا مار چه ستا خوږ نبي صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دې د وژلو حُکم کړې دې، خو چه تا د ده نه سترګې واغستې نو د ده د ګُزارې د پاره دِ يوه **مرغۍ** مُقرره کړه، بل طرف ته زه ستا يو مسلمان بنده يم او د دې باوجود مُسافِر يَروم، دباؤ پرې اچووم او لوټ کوومه ئې. هم هغه وخت د يو غيبانه اواز انګازه اوشوه: اے فلانکيه د توبه کولو د پاره زما دروازه بيرته ده. دا مې چه واوريدل نو خپله تُوره مې ماته کړه او اومې وئيل: "ما خپل ګناهونه پريښودل، ما خپل ګناهونه پريښودل." بيا مې هم هغه غيبي اواز واوريدو: "مونږه ستا توبه قبوله کړې ده." چه کله دَ خپلو ملګرو خوا ته راغلم او هغوئي ته مې دا واقِعه واورولهٔ نو هغوئي اووئيل: مونږه هم د خپل خوږ خوږ **الله** عَزَّوَجَلَّ سره صُلح کوو. بس هغوئي هم دَ خپلو ګناهونو نه په رښتيني زړه توبه اووکړه او مونږ ټول د حج په اِراده **مَكّهٔ مُكرَّمه** زَادَهَا اللہُ شَرَفًا وَّتَعْظِيْمًا ته روان شو. درې ورځې سفر مو چه اوکړو نو يو کلي ته اورسيدلو، هلته مو يوه **نابِينا بُوډۍ** اوليده، هغې زما يعنې د "**سردار**" نوم واغستو او تپوس ئې اوکړو چه آيا په

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل د قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب کيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

دې قافِله کښې هغه شته دې؟ زه ورمخکښې شوم او اومې وئيل: آو جي هغه هُم زه يم وايه څه خبره ده؟ بوډۍ پاڅيدله او د کور نه ئې جامې راوړلې او او ئې وئيل: يو څو ورځې مخکښې زما نيك ځوئ په حق رسيدلې وو، دا د هغه جامې دي، خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پرله پسې درې ورځې زما په خوب کښې تشريف راوړو او ستا نوم ئې واغستو او ارشاد ئې اوفرمائيلو: چه "هغه راروان دې، دا جامې هغه له ورکړه." ما د هغې نه هغه مبارکې جامې واغستې، بيا مې واغوستلې او د خپلو ملګرو سره د مَکّهٔ مُکرّمه زَادَهَا اللّٰهُ شَرَفًا وَّتَعۡظِيمًا په لور روان شوم. (رَوۡضُ الرِّيَاحِين) **د اللّٰهُ رَبُّ العِزّت عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئې رحمت وي او د هغوئې په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.**

اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الۡاَمِين صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

واه! زما خوږه مولٰی ستا څه ښکُلې شان دې! تا مرغۍ د ړُوند مار خادِمه جوړه کړه! ستا د رِزق ورکولو څُومره ښکُلې انداز دې!

## اللّٰه تعالٰی د روزۍ ذِمَّه اغستې ده

د بې روزګارۍ او دَ روزۍ د تنګۍ يره لرونکو! دَ شيطان په وسوسو کښې مه راځئ! د دولسمې سيپارې په اَولَنې آيت کښې ارشادِ خُداوندي دې:

فرمَانِ مُصطَفٰےﷺ: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اونه لوستو هغه جفا اوکړه. (عَبدُالرَّزّاق)

وَمَا مِنۡ دَآبَّةٍ فِى الۡاَرۡضِ اِلَّا عَلَى اللّٰهِ رِزۡقُهَا

مفهوم ترجمهٔ کنزُالایمان: او په زمکه باندې ګرځیدونکې يو داسې نشته چه د هغه رزق د الله په ذمّهٔ کرم نه وي.

د دې آيتِ کريمه نه لاندې **مُفَسّرِ شَهير حَکِيمُ الاُمّت** حضرت مُفتي احمد يار خان رَحمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيۡهِ په **"نُورُ الۡعِرفان"** کښې فرمائي: په زمکه باندې د ګرځيدونکې ذِکر ئې ځکه فرمائيلې دې چه مونږه صرف د دې مُشاهِده کوو [يعني دا وِينو]، ګني پيريانو، فرِښتو وغيره ټولو ته **ربّ** (عَزَّوَجَلَّ) روزي ورکوي. د هغه **رزّاقِيّت** (يعني دَ رِزق ورکولو صِفَت) صرف د حيوانانو د پاره نه دې بلکه څوك چه د کومې روزۍ لائِق دې هغه ته هم هغه روزي ورکولې شي. ماشوم ته د مور په ګيډه کښې يو قِسم روزي ورکوي او د پيدائِش نه پس د غاښونو راختلو پورې د بل قِسم او چه غټ شي نو بل قِسم [روزي ورکوي]، غرض دا چه **دآبّه** (يعني په زمکه ګرځيدونکې) کښې عُموم (يعني هر څوك شامِل) دې او په رزق کښې هم [هر څوك شامِل دې]. (نُورُ الۡعِرفان ص بتغيّر قليل)

## د غريبانانو مزې شوې (حِکايت)

**بارګاهِ** رِسالت صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته يو ځل فقيرانو صحابه کِرامو عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوَان خپل قاصِد (يعني نُمائِنده) اوليږلو، چه هغه په خدمت کښې حاضر شو نو عَرض ئې اوکړو: زه د فقيرانو (يعني غريبانانو) نمائِنده جوړ

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اونه لوستو هغه په خلقو کښې ډير زيات کنجُوس(يعني شوم) دې. (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب)

شوې حاضر شوې يم. **مُصطفٰے** جانِ رَحمت صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: "تا ته هم مَرحَبًا او هغوئي ته هم [مَرحَبًا] دَ چا دَ خوا نه چه ته راغلې ئې! ته د داسې خَلقو دَ خوا نه راغلې ئې دَ چا سره چه زه **محبَّت** کووم." **قاصِد** عرض اوکړو: "يا رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! فقيرانو (يعني غريبانانو) دا ګُزارِش کړې دې چه مالدارو خَلقو د جَنَّت درجات يوړل! هغوئي **حج** کوي او مونږ ته د دې اِستِطاعت (يعني طاقت او قدرت) نشته، هغوئي **عُمره** کوي او مونږه په دې قادِر نه يو، هغوئي چه بيمار شي نو خپل فالتو مال **صَدَقه** کړي او دَ آخِرت د پاره ئې جمع کړي." **خوږ پيغمبر** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: "زما د طرف نه فقيرانو ته پيغام ورکړه چه په هغوئي کښې څوك (په خپله غريبئ) صبر اوکړي او د ثواب اُمِّيد لري هغه ته به درې داسې خبرې ورکړې شي کومې چه مالدارو ته حاصلې نه دي:

(1) په جَنَّت کښې داسې بالاخانې (يعني اوچت مَحلونه) دي چه د هغو طرف ته به د جَنَّت اوسيدونکي داسې ګوري څنګه چه دَ دُنيا اوسيدونکي دَ آسمان ستورو ته ګوري، هغې ته به صرف فقر اختياروونکي نَبِيَان، فقيران شهيدان او فقيران مومِنان داخليږي (2) فُقَراء به دَ مالدارو نه دَ قيامت دَ نيمې ورځې په مِقدار يعني 500 کاله مخکښې جَنَّت ته داخليږي (3) مالدار کس چه

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوک چه په ما د جُمعې په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت کووم. (کنز العُمَّال)

سُبْحٰنَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ او وائي او هم دا کِلمات فقير هم اووائي نو د فقير همره ثواب مالدار نه شي موندلې، اګر چه هغه (ورسره) لس زره دِرهمه هم صَدَقه کړي. په نورو ټولو نيکو اعمالو کښې هم دا معامله ده.'' قاصِد چه بيرته ورغلو او فقيرانو (يعني غريبانانو) ته ئې دا فرمانِ مُصطفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم واورولو نو هغوئي اووئيل: مونږ راضي يو مونږ راضي يو.

(اِحیاءُ العُلوم ج۴ص ۵۹۶، ۵۹۷ مَکْتَبَۃُ الْمَدِینہ، بحوالہ قُوتُ الْقُلوب ج۱ ص ۴۳۶)

ميں بڑا امير و کبير ہوں، شہِ دوسرا کا اسير ہوں
درِ مصطفٰے کا فقير ہوں، مرا رِفعتوں پہ نصيب ہے

زه ډير اَمير و کَبير يم، دَ دواړو جهانو د سردار اَسِير[1] يم
دَ مُصطفٰی دَ در فقير يم، ځکه اوچت دې ډير نصيب زما

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## فَقر څه ته وائي

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د فقيرانو خو په دُنيا او آخرت کښې مزې دي! ياد ساتئ! فقير هُم هغه بنه دې کوم چه د **الله** عَزَّوَجَلَّ په رضا باندې **راضي** اوسي، صبر و قَناعت اِختيار کړي او د کِيلو او قيصو نه ځان اوساتي! ياد ساتئ! دلته دَ فقيرانو نه مُراد خيرګر (سوال کړي) نه دي.

[1] قيدي

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّیﷲتَعَالٰیعَلَیۡہِوَاٰلِہٖوَسَلَّم: چا چه په کتاب کښې په ما باندې درود پاك اوليکلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې کښې وي فرښتې به دَ هغه د پاره بخښنه غواړي. (طَبَرَانِي)

د فقر تعرِيف دا دې چه "د څه شي حاجت وي هغه موجود نه وي." دَ کوم څيز چه هډو ضرورت نه وي که هغه نه وي نو هغې ته "فَقر" نه وائي او چه دَ چا سره دَ هغه دَ ضرورت څيز موجود هم وي او د هغه په اِختِيار کښې هم وي نو داسې کس ته فقير نه وائي.

(اِحياءُ العُلُوم ج۴ص۵۶۲)

## د "فَقِيرِ مَدينه" د نهه حروفو په نِسبت د فقر په فضيلت باندې نهه فَرامِينِ مُصطفٰیﷺ

[يعني نهه حديثونه]

(1) د هغه کس د پاره زيرې دې چا ته چه د اسلام طرف ته هِدايت حاصل دې، د هغه روزي په قدر دَ کفايت ده او هغه په هغې باندې قَناعت کوي." (تِرمِذی ج۴ص۱۵۶حديث۲۳۵۶) دَ قَناعت تعرِيف مخکښې راروان دې.

(2) اے د فُقَراؤ ډلې! که د زړه نه دَ الله عَزَّوَجَلَّ په تقسيم باندې راضي اوسيږئ نو دَ خپل فقر ثواب به مومئ کَنې نه.

(اَلْفِردَوْس بِماثور الخَطّاب ج۵ص۲۹۱حديث ۸۲۱۶)

(3) د هر څيز يوه کُنجي [چابي] وي او د جَنَّت کُنجي دَ مسکِينانو او فقيرانو سره د هغوئي دَ صبر په وجه محبَّت کول دي، دا خلق به دَ قيامت په ورځ د الله عَزَّوَجَلَّ په قُرب [نزديکت] کښې وي.

(ايضاً ج۳ص۳۳۰حديث ۴۹۹۳)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې دَ جُمعې په ورځ 200 ځله دُرُود شريف اولوستل د هغه به د دوو سوو كالو ګناهونه معاف شي. (كَنزُالْعُمَّال)

(4) دَ الله عَزَّوَجَلَّ په نِزد دَ ټولو نه خوښ بنده هغه فقير دې كوم چه په خپله روزۍ باندې قَناعت اِختِيار كړي او د الله عَزَّوَجَلَّ نه راضي اوسي.

(قُوتُ القُلوب ج٢ ص٣٢٦)

(5) اے الله عَزَّوَجَلَّ! آلِ مُحمَّد ته په قدر د كفايت رزق عطا كړې.

(مُسلِم ص١٥٨٨ حديث١٠٥٥)

(6) فقير كه (د الله عَزَّوَجَلَّ په رضا) راضي وي نو د هغه نه افضل هيڅ خوك هم نشته. (قُوتُ القُلوب ج٢ ص٣٢٣)

(7) فَقرُ په دُنيا كښې د مومِن تُحفه ده. (اَلْفِردَوْس بِماثور الخَطّاب ج٢ ص٧٠ حديث ٢٣٩٩)

(8) د قِيامت په ورځ به هر كس كه هغه مالدار وي او كه غريب، د دې خبرې ارمان كوي چه كاش! هغه ته په دُنيا كښې صرف په قدر د كفايت روزي وركړې شوي وې. (اِبنِ ماجه ج٤ ص٤٤٢ حديث٤١٤٠)

(9) زما د اُمّت فُقَراء به د مالدارو نه 500 كاله مخكښې جَنَّت ته داخليږي. [تِرمِذی ج٤ ص١٥٨ حديث٢٣٦٠] (اِحياءُ العُلوم ج٤ ص٥٨٨ تا ٥٧٢، ٥٩٠ مَكتَبَةُ المَدِينه)

دولتِ دنیا سے بے رغبت مجھے کر دیجئے
میری حاجت سے مجھے زائد نہ کرنا مال دار (وسائلِ بخشش (مرمّم) ص٢١٨)

بې رغبته كړه ما دولتِ دُنيا نه
د حاجت نه زيات مې مه كړه ته مالدار

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې يو ځل دُرُود شريف اولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه باندې لس رَحمتونه را ليږي او د هغه په اعمال نامه کښې به لس نيکئ ليکې. (ترمِذی)

## د ”راضي“ تعرِيف

چه نه خو د مال دومره خواهِش لري چه د هغې په لاس راتلو خوشحالي محسوسوي او نه دَ مال نه داسې نفرت لري چه د مال په لاس راتلو ورته تکيف رسي او د هغې د اغستو نه اِنکار اوکړي. [يعني چه دا دواړه خبرې پکښې نه وي نو] داسې حالت لرونکې کس ته **راضي** وائي. (اِحياءُ العُلوم ج۴ ص۵۲۳)

**د قناعت لُغوي معنٰى**: اِکتِفا کول (يعني کافي ګنړل)، صبر کول، په لږ څيز باندې راضي او خوشحاله اوسيدل، چه څومره لاس له ورشي هم په هغې ګُزاره کول، دَ زيات غوښتلو او حِرص نه بچ اوسيدلو ته قناعت وائي. (فرهنگ آصفيه ج۳ ص۴۰۰)

**د قناعت دوه تعريفونه** (۱) د الله په تقسيم باندې راضي اوسيدو ته **قَناعَت** وائي. (التَعرِيفات لِلجُرجانی ص۱۲۶) (۲) چه څه موجود وي هم په هغې اِکتِفا کول **قَناعت** دې.

## اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت چه کله د چا سره محبَّت فرمائي نو . . .

**که** د چا نه د کور خلق جُدا شي [يا ترې ورك شي]، يواځې پاتې شي، کنګال او بې حاله شي هغه ته هم د رَبِّ ذُوالجَلال عَزَّوَجَلَّ په رضا باندې راضي اوسيدل او صبر، صبر او صرف صبر کول پکار دي، د خُدائے

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په کثرت سره دُرود شريف لولئ بيشکه ستاسو په ما باندې درود شريف لوستل ستاسو دَ ګناهونو د پاره بخښنه ده. (جامِعُ الصَّغِير)

مَجِيد عَزَّوَجَلَّ نه دا اُمِّيد ساتل پکار دي چه هغه به دې په خپلو ګرانو بندِګانو کښې شامِل کړي. چنانچه د نبئِ اکرم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ دې: **الله** عَزَّوَجَلَّ چه کله دَ خپل يو بنده سره **مَحبَّت** فرمائي نو هغه په **ازميښت** کښې اَخته کوي او چه کله د هغه سره زيات محبَّت فرمائي نو هغه ”غوره“ کړي. عرض اوکړې شو: دَ ”غوره“ نه څه مُراد دې؟ ارشاد ئې اوفرمائيلو: ”دَ هغه دَ پاره نه اهل و عِيال (يعني نه بال بچي او نه د کور کسان) پريږدي، نه **مال**.“ (اِحياءُ العُلوم ج۴ ص۵۷۸)

وه عشقِ حقيقى کى لذّت نهيں پاسکتا
جو رنج و مُصيبت سے دوچار نهيں هوتا

(وسائلِ بخشش(مُرمم) ص۱۶۴)

خوند موندې نه شي هغه د حقيقي عِشق
خوك چه ګير نه شي په غم او مُصيبت کښې

## د هغه سر دَ ګټې [کانړي] په بالښت وو (حِکايت)

**خوږو خوږو غريبانو!** رښتيا خبره دا ده چه غريبي هم ډير لوئ نِعمت دې هله چه ورسره ورسره دَ صبر او رضا سعادت هم نصيب شي ځکه چه په غريب او مِسکِين، خو په صبر کونکي او شُکر ګُزاره بنده باندې د **اَللهُ** رَبُّ العِزَّت کامِل (يعني پوره) دَ رَحمت نظر وي. چنانچه حضرت سَيِّدُنا مُوسٰی کَلِيمُ الله عَلَيْهِ السَّلَام د يو داسې کس په

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا کښې چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درود پاک اونه وئیلو تحقیق هغه بدبخته شو۔ (ابن سنی)

خوا تیر شو چه هغه **کټه** [کانړې] **بالښت** جوړ کړې وو، څادر ئې اغوستې وو او په زمکه اوده وو، د هغه مخ او ګیره په خاورو خړ وو. سَیِّدُنا مُوسٰی عَلَیْہِ السَّلَام د **الله** عَزَّوَجَلَّ په بارګاهِ کښې عرض اوکړو: "**یا الله** عَزَّوَجَلَّ! ستا دا بنده په دُنیا کښې ضائع شوې دې." **الله** عَزَّوَجَلَّ د هغوئې عَلَیْہِ السَّلَام طرف ته وحي اوفرمائیله: اے مُوسٰی! آیا تا ته نه ده معلومه چه زه کله دَ خپل بنده طرف ته کامِل (یعني پوره) د رَحمت نظر کووم نو دُنیا دَ هغه نه مُکمّل طور لرې کړم." (اِحیاءُ العُلوم ج۴ ص۵۷۵)

## فَقر د آقا ﷺ د مَحَبّت تُحفه ده (حِکایت)

حضرت سَیِّدُنا **عبدُ الله** بِن مُغَفَّل رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي چه یو کس دَ تاجدارِ رِسالت صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خِدمتِ کښې عرض اوکړو: "**یا رَسُولَ الله** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! قسم په خُدائے! زه تاسو صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره **مَحَبَّت** کووم." سرکار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: اوګوره [یعني خیال کوه، سوچ اوکړه] څه وائې! عرض ئې اوکړو: قسم په خدائے! زه تاسو صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره **مَحَبَّت** کووم. هغه درې ځله هم دغسې اووئیل. په دې خبره مُصطفٰی جانِ رَحمت صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: که ته زما سره **مَحَبَّت** کوې نو دَ فقر د پاره جامه (یعني لِباس) تیاره کړه، ځکه چه څوک زما سره **مَحَبَّت** کوي، د هغه طرف ته فَقر د

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما د جُمعې په ورځ درود شريف لولي زه به دَ قيامت په ورځ دَ هغه شفاعت كووم. (كنز العمال)

دي نه هم زيات په تيزۍ سره راځي څنګه چه سيلاب هغه طرف ته ځي كوم ځائ چه د هغې د ختميدو وي." (ترمذی ج۴ص۱۵۶حدیث۲۳۵۷)

دولتِ عشق سے دل غنی ہے، میری قسمت ہے رشکِ سکندر
مِدحتِ مصطفٰے کی بدولت، مل گیا ہے مجھے یہ خزینہ

زړه مې غَنِـي دې دَ عشق په دولت، شاهان كوي رشك زما په قِسمت
را نصيب شوي خزانه دا لويه، په وسيله دَ مُصطفٰی دَ صِفَت

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## دَ زرو كالو دَ عِبادت نه افضل عمل

**حضرت** سَيِّدُنا ابو سُلَيمان داراني رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: د كوم (جائز) خواهِش د پوره كولو قُدرت چه نه لري، د هغې نه دَ محرومۍ په افسوس كښې دَ فقير دَ خُلې نه وَتلې آه د مالدار دَ زرو كالو دَ عِبادت نه غوره دي. (احیاءُ العُلوم ج۴ص۲۰۲)

## د زرو دِينارو صدقه كولو نه غوره عمل

**حضرت** سَيِّدُنا ضَحَّاك رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: خوك چه بازار ته لاړ شي او كوم يو څيز اووينې او د هغې د اخستو خواهِش ئې په زړه كښې پيدا شي خو دَ ثواب په اُمِّيد هغه صبر اوكړي نو د هغه د پاره دا عمل د **الله** عَزَّوَجَلَّ په لاره كښې **د زرو دينارو صدقه** كولو نه غوره دې.

(احیاءُ العُلوم ج۴ص۲۰۲)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفےٰ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې دَ دُرود شريف کثرت کوئ بيشکه دا ستاسو دَپاره پاکي ده. (اَبُو يَعلی)

## ستا دُعا زما دَ دُعا نه غوره ده (حِکايت)

د **حضرت** سَیِّدُنا بِشر بِن حارِث کافي رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په خِدمت کښې يو کَس عرض اوکړو چه زما دَ پاره دُعا اوکړئ ځکه چه زه د بال بچو د خرچ خوراك په وجه پريشان يم. هغوئي رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ اوفرمائيل: "چه کله د کور کسان تا ته اووائي چه زمونږه سره نه وړه شته او نه ډوډۍ نو هغه وخت ته زما دَ پاره دُعا اوکړه ځکه چه ستا دَ هغه وَخت دُعا زما دَ دُعا نه غوره ده." (اِحیاءُ العُلوم ج۴ ص۲۰۲)

## دَ غمژنو دُعا قبليږي

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** ښکاره خبره ده چه څوك په سخته غريبۍ کښې نښتي وي هغه به خفه او غمګين هم وي او دَ غمژنو دُعا قبليږي، ځنکه چه د **دعوتِ اسلامي** د اشاعتي ادارې **مَکتَبَۃُالمَدِينه** په چاپ شوي د 318 صفحو په کتاب "**فضائِلِ دُعا**" صفحه 218 کښې د کومو خلقو دُعا چه قبليږي د هغې د ټولو نه په اولني نمبر کښې ئې ليکلي دي، اوّل **مُضْطَر** (يعني بې وَسه) د دې په حاشيه کښې **اعلٰحضرت، اِمامِ اهلِسُنّت** مولانا شاه اِمام احمد رضا خان عَلَیْہِ رَحْمَۃُ الرَّحْمٰن فرمائي: د دې (يعني د غمژن او بې وسه د دُعا قَبليدو) طرف ته خو ښځپله په قُرآنِ کَرِيم کښې ارشاد موجود دي:

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چاچه په ما باندې لس ځله دُرودِ پاك اولوستل الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل كړي. (طَبَرَانِي)

اَمَّنۡ یُّجِیۡبُ الۡمُضۡطَرَّ اِذَا دَعَاہُ وَ یَکۡشِفُ السُّوۡٓءَ (پ20 النمل:62)

مفهوم ترجمه كَنزُ الاِيمان: يا هغه، څوك چه د مجبوره [بې وسه] اوري، چه كله د هغه نه اوغواړي، او لرې كوي بَدي.

## په غريب شهزاده باندې د اعلٰحضرت اِنفِرادي كوشش

اعلٰى حضرت رَحۡمَةُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیۡه فرمائي: يو صاحِب به د ساداتِ كرامو [يعني د سيِّدانو] نه اكثر زما خوا ته تشريف راوړلو او د غريبئ او نيستئ گِيله به ئې كوله. يوه ورځ ډېر خفه راغلو، ما د هغه نه تپوس اوكړو چه كومې ښځې له پلار طلاق وركړې وي آيا هغه دَ ځوئ د پاره حلاليدې شي؟ او ئې فرمائيل: "نه." ما ورته اووئيل: **اَميرُالمؤمِنين** حضرت سيِّدُنا **علىُّ المُرتَضٰى** (كَرَّمَ اللہُ تَعَالٰي وَجۡهَهُ الكَرِيۡم) د چا چه تاسو اولاد ئې، په ځان له ځائ كښې په خپل مخ باندې لاس راښكلو او ارشاد ئې اوفرمائيلو: "اے دُنيا بل چا سره ټكي اوكړه ما تا له هغه طلاق دركړې دې چه په هغې كښې رَجعت (يعني بيرته راتلَل) نشته." [دې خبرې ته چه سوچ اوكړې نو ولې] بيا دَ ساداتِ كرام په افلاس (يعني غُربت كښې اخته كيدل) څه دَ حيرانتيا خبره ده! سَيِّد صاحب اوفرمائيل: "**وَالله** زما تسلي اوشوه." هغه اوس هم ژوندې او موجود دې د هغې ورځې نه وروستو ئې كله هم **شكايت نه دې كړې.** (يعني د غريبئ گيله ئې نه ده كړې)

(ملفوظاتِ اعلىٰ حضرت ص ۱۲۷ تا ۱۲۸)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې د دُرُود کثرت کوئ، ځوك چه داسې کوي دَ قيامت په ورځ به زه د هغه شفاعت کوونکې او ګواه جوړيږم. (شُعَبُ الاِيمان)

## د حاجت پټولو فضيلت

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** خلقو ته فضول د خپلو غمونو قيصو کولو باندې غمونه نه لږې کيږي، بلکه [د داسې کولو نقصان دا دې چه] د مُصيبت پټولو او د صبر کولو په ذريعه چه کوم ثواب ګټلې شي هغه هم ضائع شي، ځکه چه که يو کس ته هم چا بې وجه خپل مَرَض يا غم بيان کړو يا ئې بې وجه د خپلې ژبې، مَخ يا د نورو اندامونو [د اشارې وغيره] په ذريعه دَ هغه په مخکښې خفګان او بې قَرارې ښکاره کړه نو دَ صبر ثواب لا ړو. دَ **دعوتِ اسلامي** دَ اشاعتې ادارې **مَکتَبَةُ المَدِينه** چاپ شوې د 318 صفحو په کتاب "**فضائِلِ دُعا**" صفحه 263 کښې دي: فرمانِ مُصطفٰیصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دې: اوريې او حاجت مند که خپل حاجت د خلقو نه پټ کړي، نو خدائے تعالٰی به پوره کال هغه ته رزقِ حلال ورکړي." (شُعَبُ الاِيمان ج۷ ص۲۱۵ حديث ۱۰۰۵۴)

## د مَهيانو دوه ښکاريان (حِکايت)

د بې روزګارۍ نه تنګ، د نيستۍ يره لونکې، دَ کاروبار دَ کمۍ په وجه په غم کښې ډوب او د مالدارو [د مال او سهولتونو] په ليدلو او په خپله غريبۍ باندې خپل زړونه خوړلو والا دِ د خپلو غمژنو زړونو د تسلۍ د پاره يو ايمان تازه کونکې حِکايت واورې، حضرت سَيِّدُنا **عَطا** خُراساني رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ فرمائې: يو **نبي** عَلَیۡہِ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام د درياب په غاړه

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: څوک چه په ما باندې يو ځل دُرُود اولولي الله د هغه د پاره يو قِيراط اجر ليکي او قِيراط د اُحُد دَ غر هُمره دې. (عَبدُالرَّزَّاق)

تيريدلو نو اوئې ليدل چه يو کس د مَهيانو ښکار کوي، هغه بِسْمِ الله (يعنې د الله په نوم شروع کووم) اووئيله او درياب ته ئې جال اوغورزولو خو يو مَهې هم پکښې او نه نښتو. بيا د يو بل ښکاري په خوا تيريدو، هغه د شيطان نوم واغستو او جال ئې واچولو نو دومره مَهيان پکښې اونښتل چه [بهر] هغه وزن کول مشکِل شو. هغه نبي عَلَيۡهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام د الله عَزَّوَجَلَّ په بارګاه کښې عرض اوکړو: "يا الله عَزَّوَجَلَّ دا خو معلومه ده چه دا هر څه هُم ستا د طرفه دي خو د دې په حِکمَت پوهيدل غواړم." الله عَزَّوَجَلَّ فرښتو ته اوفرمائيل: زما بنده ته د دې دواړو (ښکاريانو) دَ آخِرت مقام اوښائې! چه کله هغوئي عَلَيۡهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام دَ جال اچولو په وخت کښې بِسْمِ الله لوستونکي ته ورکونکې د آخِرت عِزَّت او عَظَمت او د شيطان نوم اغستونکي ته ورکونکې رُسوائي او ذِلّت اوليدل نو عرض ئې اوکړو: اے ربِّ کَريم عَزَّوَجَلَّ زه راضي يم."

(اِحياءُ العُلوم ج۴ ص۵۷۷)

## په جَهَنَّم کښې د مالدارو خَلقو او د ښځو شمير زيات

د الله عَزَّوَجَلَّ محبوب صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلې دې: ما جَنَّت ته اوکتل نو هلته مې زيات غريبانان خلق اوليدل او چه دوزخ مې اوليدو نو هلته مې مالداران او ښځې زياتې اوليدلې."

(مُسنَد اِمام اَحمد ج۲ ص۵۸۲ حديث ۶۶۲۲)

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَ چا په خوا کښې چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درود پاک اونه وئيلو تحقيق هغه بدبخته شو۔ (ابن سنی)

په يو رِوايت کښې دي، هغوئي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: ما تپوس اوکړو: مالدار خلق چرته دي؟ نو اووئيلې شو: هغوئي د هغوئي **مالدارۍ** حصار کړي دي. (قُوتُ القُلوب ج۱ ص۴۰۴) په يو رِوايت کښې دي چه ما په دوزخ کښې د **ښځو** ګڼړ شمير اوليدو نو د دې سَبَب تپوس مې اوکړو نو اووئيلې شو: دوئي دوه سرو ځيزونو يعنې سرو زرو او زعفرانو (يعني هغوئي د سرو زرو کالو او د خاص قسم رنګينو جامو) حصاري کړې دي.

(اِحياءُ العُلوم ج۳ ص۲۷۷ مکتبةُ المدينه)

## د زنانه د سرو زرو په کالو هم زکوٰة فرض کيدې شي

د **سرو زرو** جمع کولو شوقينو خو دَ فرض کيدو باوجود د هغې ذکوٰة نه ادا کونکو اسلامي خويندو ته د دې حديثِ پاك نه درس اغستل او يريدل پکار دي. ياد ساتئ! د زکوٰة فرض کيدو دَ پاره مال ګټل يا د ګټلو قابِل کيدل شرط نه دي، بلکه دَ سرو او سپينو زرو دَ اچولو په کالو باندې هم د [شرعي] شرطونو پوره کيدو په صورت کښې زکوٰة ورکول ضروري دي. دَ حِرص په وجه "سره زر" جمع کونکو ښځو ته په دُنيا کښې "سره زر" څه خاص په کار هم نه راځي، او د زکوٰة نه ادا کولو په وجه حرص ناکې ښځې دَ آخِرت دَ عذاب لويه خطره په سر اخلي! د يو فرمانِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم حِصّه ده: "کوم يو کس چه دَ سرو او سپينو زرو مالِك وي او دَ هغې حق ادا نه کړي

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: كله چه تاسو په رسولانو دُرُود لولئ نو په ما باندې ئې هم لولئ، بيشكه زه د ټولو جهانونو د رب رَسُول يم. (جَمعُ الجَوامِع)

نو چه كله دَ قيامت ورځ شي نو د هغه د پاره به [د هغه سرو او سپينو زرو نه] د اور [نرئ] تختئ جوړې كړې شي په هغې به دَ جَهَنَّم اور بَل كړې شي او په هغې به د هغوئې ډډې او تَندې او شاګانې داغلې شي، چه كله په سړيدو شي نو بيا به هم هغسې (يعني تَودې) كړې شي. دا مُعَامله د هغه ورځې ده چه دَ هغې مِقدار پنځوس زره كاله دې تر دې چه د خلقو په مينځ كښې فيصله اوشي، بيا به هغه په خپله لار ځي كه د جَنَّت طرف ته وي او كه د دوزخ طرف ته."

(بهارِ شريعت ج۱ ص۸۶۹ بحواله صحيح مُسلِم ص۴۹۱ حديث ۹۸۷)

## په كور كښې يو موټې وړه نشته او تاسو.... (حِكايت)

مشهور صحابي حضرت سَيِّدُنا ابو درداء رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ يوه ورځ د خپلو احبابو (يعني دوستانو) سره تشريف فرما [يعني ناست] وو، د هغوئې رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ بي بي مُحترمه رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا راغله او ورته ئې وئيل: "تاسو دلته د دوئې سره ناست يې او په خدائے چه په كور كښې يو موټې وړه هم نشته." هغوئې جواب وركړو: "دا خبره وَلې هيروې چه زمونږه مخې ته يو ډير سخت كندَوْ دې چه دَ هغې نه به د سپك سامان لرونكو نه سِوا هيڅ څوك هم خلاصې نه مومي [يعني نه به شي پرې تيريدلې]." چه دا ئې واوريدل نو هغه په خوشحالئ بيرته لاړه. (رَوْضُ الرِّيَاحِين ص۲۴)

د اللّٰهُ رَبُّ العِزَّت عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئې رحمت وي او د هغوئې په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په دُرود لوستو خپل مجلِسونه ښکُلي کړئ ځکه چه ستاسو دُرُود لوستل به د قيامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي. (فِردَوسُ الاَخبَار)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## کِيله نه دي کول پکار

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** تاسو اوليده! صحابيۍ رسول حضرت سَيِّدُنا ابو درداء رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ قَناعت خومره خوښولو او د هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ بي بي **مُحترمه** رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا هم خومره اِطاعت گُزاره [فرمانبرداره] وه چه په کور کښې د خوراك دَ پاره هيڅ هم نه وو او دَ هغې باوجود ئې چه د خپل **محترم** خاوند د خُلې نه د **اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ د يرې نه دَکه جُمله واوريدله نو په خوشحالۍ خوشحالۍ بيرته لاړه. مونږ ته هم پکار دي چه دَ **غريبۍ** او د کور د **پريشانيانو** نه دَ يرې په وجه د **کِيلو قِيصو** په ځائ هميشه دَ **اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ په رضا باندې راضي اوسيږو.

زباں پر شکوۂ رنج و الم لایا نہیں کرتے
نبی کے نام لیوا غم سے گھبرایا نہیں کرتے
نه کوي کِيلې قِيصې دَ غم خَفگان
نه يريږي له غم درده دَ نبي غُلامان

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## دَ تنگدستۍ [يعني غريبۍ] "44"سببونه

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** څنګه چه په روزۍ کښې دَ بَرَکت وجهې وي دغسې په روزۍ کښې دَ تنګۍ هم څه وجهې وي، که د دې

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې په کثرت سره درود لولئ ځکه چه ستاسو دُرود په ما پيش کيږي. (طَبرَانِي)

سببونو نه د بَچ کيدو ترکيب اوکړئ نو اِنْ شَآءَاللّٰهعَزَّوَجَلَّ په روزئ کښې د تنګئ نه به بچ شئ. چنانچه دَ تنګدستئ 44 اسباب اوګورئ. (1) د لاس وِينځلو نه بغير طعام خوړَل (2) سر تور سر طعام خوړَل (3) په توره تيَره کښې طعام خوړَل(4) په دروازه کښې طعام خوړَل(5) دَ مَړي خوا ته خوړَل (6) دَ جَنابَت په حالت کښې (يعني دَ اِحتِلام وغيره نه پس د غُسل نه مخکښې) طعام خوړَل (7) په کټ کښې دَ دسترخوان خوروَلو نه بغير خوړَل(8) په دَسترخوان راوِيستې شوې طعام خوړلو ته زر نه کښيناستل(9) په کَټ کښې پخپله بَر سر ته کښيناستل او طعام کوز سر ته ايښودَل (10) په غاښونو باندې ډوډئ راماتول (برګر وغيره خوړلو والا هم که احتياط اوکړي نو ښه به وي) (11) چينې مات لوښي يا د خاورو مات لوښي د خوراك، څښاك په اِستعمال کښې راوستل (د لوښي يا د پيالئ مات طرف باندې اوبه يا چائے وغيره څښل مکروهِ تنزيهي دي، د خاورو چاودلي لوښي يا داسې لوښي چه د هغې د دننه طرف نه لرِه غوندې خاوره هم راولاړه شوې وي په هغې کښې د خوراك کولو نه ځان بچ ساتل مُناسب دي ځکه چه په داسې ځائيونو کښې خيرې وغيره جمع کيږي او بيا پکښې جراثيم پيدا شي او چه خيټې ته لاړ شي نو د بيمارو باعِث جوړيدې شي) (12) دَ خوراك لوښي نه صفا کول. په حديثِ پاك کښې دي: د خوراك نه پس چه کوم کس لوښې ختې نو هغه لوښي دَ

فرمانِ مُصطفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د هغه کس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخکښې زما ذِکر اوشي او هغه په ما درودِ پاك اونه لولي. (ترمِذی)

هغه دَ پاره دُعا کوي او وائي: اَللّٰہ عَزَّوَجَلَّ دِ تا د جَهَنَّم د اور نه ازاد کړي څنګه چه تا زه د شیطان نه ازاد کړم. (جَمْعُ الْجَوامِع لِلسُّیُوطی ج۱۲ص ۳۴۸ حدیث۲۵۵۸) او په یو رِوایت کښې دي چه لوښې د هغه دَ پاره اِسْتِغْفار (یعني دَ بخښنې دُعا) کوي. (اِبنِ ماجه ج۴ص۱۴حدیث ۳۲۷۱) (13) په کوم لوښي کښې چه طعام اوخوري په هغې کښې لاس وینځل (14) د خِلال کولو په دوران کښې د غاښونو نه راخلاصې شوي ذَرّې وغیره بیرته په خُله کول (15) دَ خوراك څښاك په لوښو باندې سر نه ایښودل (16) ډوډۍ اخوا دیخوا داسې ایښودل چه بې ادبي ئې کیږي او ښپې پرې د پاسه راځي. (مُلَخَّص از سُنّی بهشتی زیور ص ۶۰۰ تا ۶۰۵) حضرت سَیِّدُنا اِمام بُرهانُ الدِّین زَرنُوجي رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْه چه دَ تنګدستۍ کوم اسباب بیان کړي دي په هغې کښې دا هم دي: (17) د زیات اوده کیدو عادت (د دې سره یاد داشت کمزوري کیږي او جَهالت ورسره زیاتیږي) (18) بربنډ اوده کیدل (19) په بې حیائي سره بَول کول [یعني اودس ماتول] (په عامو لارو کښې تش بَول کونکي دِ غور اوکړي) (20) په دَسترخوان باندې غورزیدلي دانې او د خوراك زرّې وغیره اوچتولو کښې سستي کول (21) دَ پیاز او اُوږې پوستکې سوزول (22) کور په رومال باندې جارو کول (23) د شپې جارو وهل (24) خَزَلې [کچرا] په کور

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د هغه کس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخکښ زما ذِکر اوشي او هغه په ما درودِ پاك اونه لولي.      (تِرمِذِی)

کښې پریښودل (25) دَ مشائِخ [پیرصاحِبانو، عُلَماء] نه مخکښې مخکښ تلَل (26) مور او پلار ته په نوم اغستو غږ [اواز] کول (27) لاسونه په ختهو یا خاورو وینځل (28) د دروازې یو طرف ته دړه لګولې اودریدل (29) په بَیتُ الخلا (Wash room) کښې اودس کول (په کورونو کښې نن صبا د اټیچ باتھ په وجه دا عام دي، که کیدې شي نو په کور کښې جُدا دَ اودس انتِظام کول پکار دي) (30) په بدن دَ پاسه اغوستې جامې وَغیره ګنډل (31) په اغوستو جامو مخ وچوَل (32) په کور کښې دَ جولاګانو [غنړې] جالونه پریښودل (33) په مانځه کښې سستي کول [یعنې په وخت نه کول] (34) د سحر د مانځه نه پس د جُمات نه زر وَتل (35) سحر وختي بازار ته رَسیدل (36) د بازار نه ناوخته راتلَل (37) خپل اولاد ته ازار (یعنې ښیرې) کول (اکثر زنانه په خبره خبره خپلو بچو ته ښیرې کوي او بیا دَ تنګدستئ په ژړا هم ژاړي) (38) ګناه کول خُصوصاً دروغ وئیل (39) ډیوه یا (موم بتئ وغیره) په پوکي مړه کول (40) ماته ګُمَنز استعمالول (41) د مور او پلار دَ پاره دُعائے خیر نه کول (42) عِمامَه په ناسته تړل او (43) پاجامه یا پرتوګ وغیره په ولاړه ولاړه اغوستل (44) په نیك اعمالو کښې ټالم ټول [یعنې سُستي] کول. (تَعْلِیْمُ الْمُتَعَلِّم ص ۱۲۳ تا ۱۲۶)

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په مخکښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاك او نه لوستو هغه د جَنّت لاره پريښوده. (طَبَرانِی)

## دَ تنګدستۍ نه خلاصي

ځيني اَعمال داسې هم وي چه دَ هغې په کولو **تنګدستي** لرې کيږي، څنګه چه د حضرت سَيِّدُنا عَبدُاللّٰه بِن عَبَّاس (رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا) نه رِوايت دې چه **سَرکارِ مَدِينه** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلې دي: دَ طعام نه مخکښې او وروستو اودس کول (يعني دواړه لاسونه د مړوندونو پورې وِينځل) مُحتاجي (تنګدستي) لرې کوي او دا دَ مُرسَلِين (يعني رسولانو) عَلَيْهِمُ السَّلَام دَ سُنَّتو نه يو سُنّت دې. (اَلمُعجَمُ الْاَوسط ج۵ ص۲۳۱ حديث۷۱۶۶)

## دَ تنګدستۍ عِلاج

زبَردَست مُحَدِّث حضرت سَيِّدُنا هُدبَه بِن خالِد عَلَيْهِ رَحْمَةُ الْمَاجِد ته خليفهٔ بَغداد مامونُ الرَّشيد خپل ميلمه جوړ کړو، د طعام په آخِره کښې چه د خوراك کومې دانې [ټُکړې] وغيره غورزيدلې وې، مُحَدِّث صاحِب هغه راټولول او خوړَل شروع کړل. مامون حيران شو او اوئې وئيل: اے شيخ: ولې تاسو نه ئې موړ شوې؟ او ئې فرمائيل: وَلې نه ! در اصل خبره دا ده چه ما ته حضرت سَيِّدُنا حَمّاد بِن سَلَمه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ يو حديث بيان کړې دې: ”څوك چه د دَسترخوان نه لاندې پريوتې ټُکړې خوري هغه به د فَقر (يعني تنګدستۍ) نه بې يَرې شي.“

(تارِيخِ اصبهان للاصبهانی ج۲ ص۳۳۳)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم خلق چه د خپل مجلِس نه د **الله** عَزَّوَجَلَّ د ذِکر او په **نبي** باندې د درود شريف لوستلو نه بغير پاځيدل نو هغه د بدبوداره مُردار نه پا ځيدل. (شُعَبُ الاِيمان)

# په روزۍ کښې د بَرَکت ډيره غوره نُسخه

**حضرت سَيِّدُنا سَهل بن سَعد** رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ بيان کوي چه يو کس د تاجدارِ رِسالت شَهَنشاهِ نُبُوَّت صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خِدمتِ بابَرَکت کښې حاضر شو او دَ خپلې **تنګدستۍ** [يعني غريبۍ] شِکايت ئې اوکړو. هغوئي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: ”چه کله ته کور ته په ننوتو کښې شې او په کور کښې څوک وي نو سلام کوه او ننوځه او که په کور کښې څوک نه وي نو په ما سلام عرض کوه او يو ځل **قُلۡ هُوَاللّٰه** شريف [پوره سورت] لوله.“ هغه کس هم دغسې اوکړه. **الله** عَزَّوَجَلَّ هغه دومره مالداره کړو چه هغه دَ خپلو ګاونډيانو هم خدمت اوکړو. (تفسيرِقُرطبی ج۱۰ ص۱۸۳)

# په خالي کور کښې دَ سلام پيش کولو طريقه

په **تش** کور کښې دَ سلام کولو دوه طريقې وړاندې کيږي: دَ **دعوتِ اسلامي** د اشاعتي ادارې **مکتبةُ المدينه** چاپ شوي د 32 صفحو په رِساله ”**101 مدنی پھول**“ صفحه 24 کښې دي چه: که داسې کور ته ننوتل وي چه په هغې کښې هيڅ څوک هم نه وي (که هغه خپل کور وي هم) نو داسې دِ اووائي: اَلسَّلَامُ عَلَيۡنَا وَعَلٰی عِبَادِ اللّٰهِ الصّٰلِحِيۡنَ (يعني په مونږه او د **الله** عَزَّوَجَلَّ په نيکو بندګانو دِ سلام وي) فرِښتې به د دې سلام جواب ورکوي. رَدُّالمُحتار ج۹ص۶۸۲ يا دِ داسې اووائي: اَلسَّلَامُ عَلَيۡكَ اَيُّهَا النَّبِيُّ (يعني يا نبي په تاسو دِ سلام

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې په ورځ كښې 50 ځله درودِ پاك اولولي د قِيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه كووم (يعني لاس مِلاووُم). (اِبنِ بشكوال)

وي) ځكه چه دَ حُضُورِ اقدس صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم رُوحِ مُبارَك د مُسلمانانو په كورونو كښې تشرِيف فرما وي.

(بہارِ شریعت حصّہ ۱۶ ص ۹۶، شرحُ الشّفاءِ لِلقاری ج۲ ص ۱۱۸)

اے مدینے کے تاجدار سلام | اے غریبوں کے غم گُسار سلام
میرے پیارے پہ میرے آقا پر | میری جانب سے لاکھ بار سلام
اے د مدينې تاجداره سلام | اے د غريبانو غم گُساره سلام
زما په ګران زما په خوږ آقا | زما له طرفه بې شُماره سلام

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## آيا مالدار كيدل بده خبره ده؟

هر مالدار بد نه وي او هر غريب ښه نه وی. كه دَ كوم يو مالدار زړه دَ مال دَ محبَّت نه خالي وي، دَ هغه مال هغه دَ ربِّ ذُوالجَلال نه غافِله نه كړي او هغه دَ خپل مال ټول شرعي حقونه هم پوره كوي نو يَقيناً هغه يو ښه مسلمان دې، خو دَ كوم يو دولت مند داسې كيدل ډير زيات مُشكِل دي. دَ دولت مندو سره دَ غريبانانو په مُقابَله كښې عُموماً دَ ګناهونو اَسباب زيات وي. د چا سره چه د ګناهونو اسباب زيات وي دَ هغوئې د ګناهونو نه بچ كيدل زيات مُشكِل وي. او دَ چا سره چه په دُنيا كښې مال زيات وي په هغه باندې دَ آخرت دَ حِساب مُصِيبَت هم زيات وي. هغه داسې چه

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د قِيامت په ورځ به په خلقو كښې ما ته ډېر نِزدې هغه وي چا چه په دُنيا كښې په ما باندې زيات درودِ پاك لوستلي وي. (تِرمِذی)

# دَ حلال مال د ډېروالي نه ډډه كول

**حضرت** سَيِّدُنا ابو دَرداء رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي: زه خو دا خبره هم نه خوښووم چه دَ جُمات په دروازه كښې دِ زما دُكان وي، ځكه چه كاروبار چري ما دَ مانځه او **ذِكرُ الله** عَزَّوَجَلَّ نه غافِله نه كړي او ورسره مې دا هم نه ده خوښه چه د دې دُكان نه ما ته هره ورځ دَ پنځوسو دِينارو (يعنې دَ سرو زرو دَ پنځوسو اشرفو) گټه هم حاصليږي چه هغه زه دَ **اَللّٰه** عَزَّوَجَلَّ په لار كښې صدقه كووم! عرض اوكړې شو: تا سو دا خبره (يعنې دومره آسانه، حلاله او دَ نيكو نه ډكه ښه ډيره گټه) وَلې ناخوښه گڼړئ؟ اوئي فرمائيل: "**د آخِرت د حِساب كِتاب دَ سختئ په وجه.**" (اِحیاءُ الْعُلوم ج۴ص ۲۰۳) ځكه چه دَ آخِرت حساب په حلال مال كښې هم دې او كوم چه حرام مال دې په هغې خو عَذاب دې.

صَدقہ پیارے کی حیا کا کہ نہ لے مجھ سے حساب
بخش بے پوچھے لجائے کو لجانا کیا ہے
(حدائقِ بخشش ص ۱۷۱ مکتبۃ المدینہ)

په خاطِر د خوږ نبي زما نه مه اخله حِساب
اوبخښې ما بې حِسابه، رُسوا مه كړې نور رُسوا

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ”دروغژن سړي دوزخي وي“ د شپاړس حروفو په نِسبت دَ مالدارو دَ دروغو شپاړس مِثالونه

**نَن** صبا د مالدارئ په سبب بې شمیره ګناهونه کیږي، هم په دغه ګناهونو کښې دا هم ده چه ځیني مالداران په ډیرو موقعو باندې د مال په باره کښې **دروغ** وائي: د دې شپاړس مِثالونه اوګورئ خو کومه یوه خبره به د ګناهونو نه ډك دروغ هله ګڼړلې شي چه هغه خبره **دَ رښتیا خلاف** وي او اِرادتًا وَئیلې شوي وي او چه په هغې کښې دَ شرعي اِجازت او رُخصَت هم هیڅ صورت نه وي مَثَلًا (1) زما دَ مال سره هیڅ محبَّت نشته (2) زه خو صرف د بچو دَ پاره ګټم (3) زه خو صرف د دې د پاره ګټم چه هر کال پرې مدینې ته لاړ شم (4) زه خو د الله په لاره کښې د خرڇ کولو د پاره ګټم (حالانکه کال پس دوه نِیم فیصده زکوٰة ویستل ئې هم زړه نه غواړي، غریبانانو له ښې چکرې ورکوي) (5) په غلا کیدو، ډاکه پریوتو، په اور لګیدو یا په هره وجه باندې مالي نُقصان پیښیدو باندې داسې وَئیل:”ما ته د دې هیڅ غم نشته (حالانکه ډیر خفه وي) (6) شانداره بنګله جوړولو یا دَ نوي ماډل ښه موټړ اخستو نه پس دا وَئیل: ”یار مونږه پرې څه کوو! بس دا خو مې د بچو شوق پوره کړو.“ (حالانکه خپل زړه ئې پخپله ښې مزې غواړي)(7) دومره مې ګټلي دي چه بس نور مې تري زړه موړدي(حالانکه داسې ویُونکي ښه په جذبه د مال ګټلو

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک اونه لوستو تحقیق هغه بدبخته شو. (اِبنِ سَنی)

سلسله جاري ساتي او نوي نوي کاروبارونه شروع کوي) (8) زه بالکل فُضول خرچي نه کووم (حالانکه د ژوند انداز ئې څه نورې قیصې اوروي) (9) **الله** ډیر څه راکړي دي خو مونږه سادګي خوښوو (حالانکه د تن اغوستې جامې او د خوراك لوښي وغیره ئې په ښکاره میدان په سادګۍ پورې خندا کوي) (10) ما دَ خپلې لور یا ځوئ واده په ډیره سادَګۍ سره کړې دې (حالانکه څومره شاهي خرچ چه په دې واده شوې وي په هغه هُمره رقم شاید چه دَ غریبې کورنۍ 100 وَدونه اوشي) (11) بس جي! هر څه مې بچو ته حواله کړي دي، کاروبار سره مې هیڅ تَعَلُّق نشته! (داسې خبره کونکي ته وخت ګورئ چه کله دې دَ خپلو بچو نه دَ کاروبار باقاعده حساب اخلي او د هغوئي غوږونه تاوهي) (12) د مالدارئ په وجه مې کله هم تَکَبُّر نه دې کړې (داسې خبره کونکي ته هغه وخت ګورئ چه کله دې یو غریب خپلوان رتې او هغه ته د سپك نظر کولو په وجه هغه له لاس ورکول خپله بې عزتي ګڼړي، یا چه کله د خپلو نوکرانو سره په غُصَّه خبرې کوي) (13) زړه مې غواړي چه هر څه پرېږدم او لاړ شم په مدینه کښې اوسیږم (که واقعي ئې زړه غواړي نو مرحبا! او که زړه ئې نه غواړي نو دروغ شو) (14) کله مې هم په چا باندې دَ خپلې مالدارئ رُعب نه دې اچولې (د چا کره په واده وغیره یا بَلَه څه خوشحالئ کښې که د ده د طبعې مطابق د ده قدر او نه کړې شي نو د ده دَ خُلې نه وریدونکي ګلونه دغه وخت ګورئ یا چه کله په خپله خُله خپل تَعارُف کوي نو خپلې فیکټرئ او کاروبارونه

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل دَ قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب کيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

تول ور اوشميري وغيره وغيره. نو دَ دې جُملې په حقيقت به پوهه شئ (15) هسې په ښکاره باندې مالدار يم ګنې په زړه کښې فقير يَم (د داسې سړي که روحاني سي تي سکين [التراساوند] اوشي نو شايد چه حِرص او لالچ پکښې د تولو نه مخکښې راښکاره شي) (16) مونږه خپل ملازمان نوکران نه بلکه د کور کسان ګڼړو (د دوئي د نوکرانو که زړونه اولټولې شي نو اصل خبره به راښکاره شي چه د هغوئي غريبانانو سره د سپو نه هم زيات بد سلوک کيږي)

## د رِزق وغيره دوه ديرش روحاني عِلاجونه

## د تنګدستئ 11 روحاني عِلاجونه

(1) يَا مُسَبِّبَ الۡاَسۡبَابِ 500 ځله، مخکښې وروستو 11، 11 ځله درود شريف، دَ ماسخُتن دَ مانځه نه پس مخ په قبله سر تور سر په داسې ځائ کښې اولولئ چه دَ سر او دَ اسمان دَ مينځه [چت وغيره] هيڅ شې نه وي، تر دې چه په سر تويۍ هم نه وي. اسلامي خويندې دِ ئي په داسې ځائ کښې لولي چه کوم ځائ دَ غيرمحرم نظر نه پريوځي.

(2)يَا بَاسِطُ 100ځله د خاښت دَ مانځه نه پس اولولئ، اِنۡ شَآءَ اللهعَزَّوَجَلَّ په روزئ کښې به مو برکت اوشي.

(3) يَا ذَا الۡجَلَالِ وَالۡاِكۡرَامِ 100 ځله د هر مانځه نه پس لوستونکي او دَ حلال رزق دَ پاره دُعا کونکي ته به اِنۡ شَآءَ اللهعَزَّوَجَلَّ رِزقِ حلال ورکول شي.

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اونه لوستو هغه جفا اوکړه. (عَبدُالرَّزَّاق)

(4) يَا اَللّٰهُ 786 ځله دَ جُمعې دَ مانځه نه پس اوليکۍ. دا په دُکان يا کور کښې اېښودلو سره رزق زياتيږي او په مال او دولت کښې برکت کيږي.

(5) د صُبحِ صادِق نه پس او د سحر د مانځه نه **مخکښې** د خپل کور په څلورو واړو کوټونو کښې په ولاړه يَارَزَّاقُ 10 ځله اولولئ اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ کله به هم په دې کور کښې **تنګدستي** نه راځي. طريقه ئې دا ده چه په کور کښې د ښي لاس د ګوټ نه په ولاړه وئيل شروع کړئ او د دې ګوټ نه د هغه ګوټه پوره په ترڅ [کوڼ] داسې روان شئ چه مخ هم قبلې ته وي او په هر ګوټ کښې ئې مخ په قبله په ولاړه اولولئ.

(6) مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ اَحْمَدُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوګ چه ځان صفا سُتره کړې او دَ جُمعې د مانځه نه پس 35 ځله دا اوليکي او د ځان سره ئې کيږدي نو الله تعالىٰ به هغه له غيبانه رزق ورکوي او دَ شيطان دَ شر نه به په حفاظت کښې اوسي.

(7) يَا لَطِيْفُ 100 ځله او يو ځل اَللّٰهُ لَطِيْفٌ بِعِبَادِهٖ يَرْزُقُ مَنْ يَّشَآءُ ۚ وَهُوَ الْقَوِيُّ الْعَزِيْزُ [2] لوستلو سره به په رزق کښې برکت کيږي.

---

[2] پ 25 سُورةُ الشُّورٰی آيت 19

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اونه لوستو هغه په خلقو کښې ډېر زيات کنجُوس (يعني شوم) دې.(اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب)

(8) يَا لَطِيْفُ 100 ځله هره ورځ د سحر او د ماښام د مانځه نه پس او ورسره دا دُ عا درې ځله لوستل په رزق کښې دَ برکت دَ پاره ډېر زيات فائِده مند دي. اَللّٰهُمَّ وَسِّعْ عَلَيَّ رِزْقِيْ، اَللّٰهُمَّ عَطِّفْ عَلَيَّ خَلْقَكَ كَمَا صُنْتَ وَجْهِيْ عَنِ السُّجُوْدِ لِغَيْرِكَ، فَصُنْهُ عَنْ ذُلِّ السُّوَالِ لِغَيْرِكَ، بِرَحْمَتِكَ يَا اَرْحَمَ الرّٰحِمِيْنَ.

(9) يَا حَيُّ يَا قَيُّوْمُ او يَا وَهَّابُ هره ورځ زر زر ځله لوستل دَ رِزق دَ زيات والي دَ پاره فائِده مند دي.

(10) دَ هر مانځه نه پس دا آياتِ مُبارکه لوستل دَ رزق د پاره ډېر غوره دي. لَقَدْ جَآءَكُمْ رَسُوْلٌ مِّنْ اَنْفُسِكُمْ عَزِيْزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيْصٌ عَلَيْكُمْ بِالْمُؤْمِنِيْنَ رَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۲۸﴾ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَقُلْ حَسْبِيَ اللّٰهُ ۖ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ؕ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَهُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ ﴿۱۲۹﴾

(پارہ 11 سُورۃُ التَّوبہ آيت ۱۲۸، ۱۲۹)

(11) خوك چه دَ سحر دَ مانځه نه پس مخکښې وروستو 14 ځله درود شريف او بيا يَا وَهَّابُ 1400 ځله اولولي اِنْ شَآءَ اللّٰہ عَزَّوَجَلَّ کله به هم په رزق کښې دَ برکت نه نه محرومه کيږي، بلکه دَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په رحمت به دَ هغه نسلونه هم د روزۍ د ډېروالي په سبب خوشحاله اوسي.

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوک چه په ما دَ جُمعې په ورځ دُرُود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت کووم. (کنز العمال)

## (12) په رزق کښ دَ برکت بې مثاله وظيفه

يو صحابي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ عرض اوکړو: **يا رَسُولَ الله** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! دُنيا زما نه مخ اړولې دې. اوئې فرمائيل: آيا هغه تسبِيح تا ته يادي نه دي کومې چه تسبِيح دي دَ فرښتو او دَ مخلوق، چه دَ هغې په برکت روزي ورکوله شي، چه کله صُبحِ صادِق را اوخيژي نو دا تسبِيح سل ځله لوله، ''سُبْحٰنَ اللّٰہِ وَبِحَمْدِہٖ، سُبْحٰنَ اللّٰہِ الْعَظِیْمِ، اَسْتَغْفِرُ اللّٰہَ'' دُنيا [يعني مال دولت] به تا له ذليله شوي راځي. هغه صحابي لاړو څه موده پس بيا حاضر شو، عرض ئې اوکړو: **يا رَسُولَ الله** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! دُنيا [يعني مال دولت] ما له دومره په کثرت سره راغله، زه حيران يم چه کوم ځائ ئې کيږدم چرته ئې اوساتم! (اَلخَصَائِصُ الکُبرٰی ج۲ ص۲۹۹ مُلَخَّصاً)

اعلٰحضرت رَحمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: دا تسبِيح دِ چه څومره کيدې شي د صُبحِ صادِق د راختو سره اولوستلې شي، کنې دَ سحرنه مخکښ [دِ اووئيلې شي]، که جُمعه اودريږي نو په هغې کښ شريک شئ او بيا وروستو شمير پوره کړئ او په کومه ورځ چه د مانځه نه مخکښ هم او نه شي نو خير دې دَ نمر خاته نه ئې مخکښ اولولئ.

(مَلفُوظاتِ اعلٰحضرت ص۱۲۸ مُلخَّصاً)

## (13) په يو کال کښ د مالدار جوړيدو عمل

څوک چه د نمر خاته په وخت کښ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم 300 ځله او درود شريف 300 ځله اولولي الله عَزَّوَجَلَّ به هغه ته د داسې ځائ نه

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په کتاب کښې په ما باندې درود پاك اوليکلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې کښې وي فرښتې به دَ هغه د پاره بخښنه غواړي. (طَبَرَانِي)

رزق عطا کوي چه هغه ځائ به د ده په گُمان کښې هم نه وي او (هره ورځ لوستلو سره به) اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په يو کال کښې اَمِير او کبير [يعنې غټ مالدار] شي. (شَمسُ المَعَارِف الکبریٰ و لطائف العوارف ص ۳۷)

## (14) په کاروبار کښې دَ ترقۍ نُسخه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم په کاغذ باندې 35 ځله اوليکئ او په کور کښې ئې زوړند کړئ، اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ شيطان به [په دغه کور] نه شي تيريدلې او (په حلال رزق کښې به) ښه برکت کيږي، او که په دُکان کښې ئې زوړند کړئ او کاروبار جائِز وو نو اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ ښه برکت به پکښې کيږي. (اِيضاً ص ۳۸)

## (15) دَ مال او دولت دَ حِفاظت د پاره

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ 97 ځله لوستلو او دراز (کُله،المارئ)، غله [يعني داني وغيره] ، گودام، مال وغيره پرې دم کړئ اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د آفت او مُصيبت نه به د مال او دولت حفاظت کيږي.

## (16) د نوکرۍ موندلو عمل

(په غيرِ مکروه وخت کښې) دوه رکعته نفل ادا کړئ او د سلام گرځولو نه پس يَا لَطِيْفُ 182 ځله (مخکښې وروستو درود شريف) اولولئ بيا د جائِزه، آساني نوکرئ يا د حلال روزګار د موندلو دُعا اوکړئ، اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دُعا به مو قبوله شي.

فرمانِ مُصطفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې درود شريف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليږي. (ابن عدي)

## (17) د بدلئ د پاره وظيفه

د ماسپيښين د مانځه نه پس 11 يا 21 يا 41 ځله هره پيره سره د بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم سُوۡرَةُ اللَّهَب اولولئ، اِنۡ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د خواهش مطابق بدلي [تبادله] به مو اوشي.

## (18) په انټروِيو کښې د کاميابئ د پاره

د جائِزې نوکرئ وغيره د پاره د اِنټروِيو ورکولو د پاره چه ځئ نو مخکښې دا اولولئ: اَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيۡطٰنِ الرَّجِيۡمِ ط بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ط كٓهٰيٰعٓصٓ ۔ حٰمٓ عٓسٓقٓ ۔ فَسَيَكۡفِيۡكَهُمُ اللّٰهُ ۚ وَهُوَ السَّمِيۡعُ الۡعَلِيۡمُ کاميابي به درته حاصليږي.

## (19) دَ غلا نه به مو حفاظت کيږي

سُوۡرَةُ التَّوۡبَةِ پخپله يا په بل چا اوليکئ، پلاستِك کوټِنګ ئې کړئ او په خپل سامان کښې ئې کيږدئ، اِنۡ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د غلا نه به په حفاظت کښې شي.

(20) يَا جَلِيۡلُ (اے بُزرگی والا) 10ځله اولولئ او خپل مال او اسباب او رقم وغيره پرې دَم کړئ، اِنۡ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دَ غلا نه به په حفاظت کښې اوسي.

www.dawateislami.net

(21) که مال مو غلا شي يا ورك شي نو دا آيتِ مبارکه بې د شمارلو نه لولئ، پيدا به شي، يٰبُنَیَّ اِنَّهَاۤ اِنْ تَكُ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ فَتَكُنْ فِیْ صَخْرَةٍ اَوْ فِی السَّمٰوٰتِ اَوْ فِی الْاَرْضِ یَاْتِ بِهَا اللّٰهُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَطِیْفٌ خَبِیْرٌ ﴿۱۶﴾ (پاره ۲۱ لُقمٰن آيت ۱۶)

## (22) که کار روزګار کښې ئې زړه نه لګي نو ..........

يَا اَللّٰهُ 101 ځله په کاغذ باندې اوليکئ، تعويذ ترې جوړ کړئ او په مټ ئې اوتړئ، اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ په جائِز کار روزګار او حلاله نوکرۍ کښې به مو زړه اولګي.

## (23) د غريبۍ نه خلاصې

که په کور کښې درته بيمارۍ، غريبۍ او نيستۍ ديرې اچولې وي نو د ناغې نه بغير د ووه 7 ورځو پورې د هر مانځه نه پس يَا رَزَّاقُ يَا رَحْمٰنُ يَا رَحِيْمُ يَا سَلَامُ 112 ځله اولولئ او دُعا اوکړئ، اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ دَ بيمارۍ، تنګدستۍ او نيستۍ نه به خلاصې اومومئ.

## (24) دَ افسر دَ خفګان درې روحاني عِلاجونه

افسر (يا نګران) چه د چا نه خفه وي، هغه دِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم په کثرت سره لولي يا دِ ئې يو ځل اوليکي او په مټ دِ ئې اوتړي اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ هغه **افسر** (يا نګران) به مهربانه شي.

فرمانِ مُصطَفےٰ صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چاچه په ما يو ځل درود شريف اولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه لَس رحمتونه نازل كړي. (مُسلِم)

(25) كه افسر يا مالِك په خبره خبره غُصَّه او رټل كوي نو په ناسته ولاړه هر وخت يَا حَیُّ یَا قَیُّوْمُ لولئ او په خيال كښ دَ مالِك يا افسر مخ راوَلئ، اِنْ شَآءَاللہ عَزَّوَجَلَّ هغه به په تاسو مهربانه شي.

(26) لَآ اِلٰہَ اِلَّا اللہُ اولولئ يا اوليكئ او په مټ وغيره ئې اوتړئ كه ضرورتاً د كوم يو ظالِم اَفسر دفتر ته لاړ شئ نو اِنْ شَآءَاللہ عَزَّوَجَلَّ د هغه د شر نه به مو حفاظت كيږي.

## (27) د سامان، ګاډې يا كور خرڅولو د پاره

فَلَمَّا اسْتَیْـَٔسُوْا مِنْهُ خَلَصُوْا نَجِیًّا ؕ قَالَ كَبِیْرُهُمْ اَلَمْ تَعْلَمُوْۤا اَنَّ اَبَاكُمْ قَدْ اَخَذَ عَلَیْكُمْ مَّوْثِقًا مِّنَ اللّٰهِ وَ مِنْ قَبْلُ مَا فَرَّطْتُّمْ فِیْ یُوْسُفَ ۚ فَلَنْ اَبْرَحَ الْاَرْضَ حَتّٰى یَاْذَنَ لِیْۤ اَبِیْۤ اَوْ یَحْكُمَ اللّٰهُ لِیْ ۚ وَ هُوَ خَیْرُ الْحٰكِمِیْنَ ﴿۸۰﴾ (پاره ۱۳، سورة يُوسُف:۸۰)

دا آيت مباركه اولولئ او سامان، ګاډي [يا كور وغيره] پرې دم كړئ اِنْ شَآءَاللہ عَزَّوَجَلَّ سامان [وغيره] به زر خرڅ شي.

## (28) كه انسان ورك شي نو

كه ماشوم يا غټ څوك ورك شي نو ټول كور والا دِ بې شميره ځله د يَا جَامِعُ يَا مُعِيْدُ وظيفه اوكړي. كه **الله** تعالیٰ ته منظوره وه نو راپيدا به شي.

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درود پاک لوستل هير کړل هغه دَ جنّت لاره هيره کړه. (طَبَرَانِي)

## (29) د رزق دروازې پرانِستل

**يَا وَهَّابُ** درې سوه ځله د سحر دَ مانځه نه پس اولولئ. اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ دَ روزګار پريشاني به مو لرې شي. (موده: 40 ورځې)

## (30) د وَينو علاج

په کور يا دُکان وغيره کښې که وَينې شوې وې نو اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ ختمې به شي، په کاغذ باندې دا اسماءِ مبارکه اوليکئ او هلته ئې زوړند ئې کړئ: اوّل خليفه سَيِّدُنا حضرت ابو بکر صِدّيق رَضِیَ اللّٰه تَعَالٰی عَنْهُ دُوُم خليفه سَيِّدُنا حضرت عُمر فاروق رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ سوم خليفه سَيِّدُنا حضرت عُثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ چهارم خليفه سَيِّدُنا حضرت علی المرتضٰی رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ پنجم خليفه سَيِّدُنا حضرت حسن بن علی رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُمَا ششم خليفه سَيِّدُنا حضرت امير مُعاوِيه بن ابو سُفيان رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُمَا

## (31) د وَينو نه حفاظت

چه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ 41 ځله اولوستلې شي او جمع کړې شوي څيزونه او کتابونه وغيره پرې دَم کړې شي نو د وَينو او نورو چينجو وغيره نه به اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ په حفاظت کښې اوسي.

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل دَ قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب کيږي. (مَجۡمَعُ الزَّوَائِد)

## (32) سودا به د خوښې مطابق کيږي

بِسۡمِ اللهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم د خريدارئ کولو (يعنې د اخِستَلو) په وخت کښې په لوستلو لوستلو سره به اِنۡ شَآءَ اللهُ عَزَّوَجَلَّ خيز بنه او هغه هم دَ خپلې خوښې مطابق پيدا کيږي. دا رساله د لوستلو نه پس بل ته د ثواب په نيت ورکړئ.

لوٹنے رحمتیں قافلے میں چلو          سیکھنے سنّتیں قافلے میں چلو
ہوں گی حل مشکلیں قافلے میں چلو          ختم ہوں شامتیں قافلے میں چلو

دَ رحمتونو ګټلو د پاره قافلو کښې لاړشئ
دَ سنّتونو زده کولو دَپاره قافلو کښې لاړشئ
مشکلات به حل شي قافلو کښې لاړشئ
مصيبتونه به ختم شي قافلو کښې لاړشئ

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**دا رساله اولولئ او بل ته ئې ورکړئ**

په غم ښادئ، اجتماعاتو، عُرسونو او د ميلاد په جلوسونو وغيره کښې د **مَكۡتَبَةُ الۡمَدِينه** نه شائع شوې رسالې او د مدني ګلونو پرچې تقسيم کړئ او ثواب اوګټئ، خپلو ګاهکونو ته په تحفه کښې ورکولو د پاره په خپلو دُکانونو کښې هم د رِسالو اېښودلو عادت جوړکړئ، د اخبار خرخونکو يا د ماشومانو په ذريعه په خپل چم ګاونډ کښې کور په کور وقفه په وقفه کله يوه کله بله د سنّتو نه ډکو رِسالو رسَوَلو په ذريعه د نيکئ دعوت عام کړئ او ډير ثوابونه اوګټئ.

طلب غمِ مدینہ بقیع
و مغفرت وبے
حساب جنّت
الفردوس میں
آقا کا پڑوس

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## نيك او مونځ ګزاره جوړيدو د پاره

هر زيارت د ماښام د مانځه نه پس ستاسو په ځائې کښې کيدونکې د **دعوتِ اِسلامي** د سُنَّتو نه ډکه هفته واره اجتِماع کښې د رِضائے اِلٰهي د پاره د ښو ښو نِيَّتونو سره ټوله شپه تيروئ ❁ د سُنَّتو د تربِيَّت د پاره په **مَدَني قافِله** کښې د عاشِقانِ رسُول سره هره مياشت د درې ورځو سفر او ❁ هره ورځ د "**فِکرِ مَدِينه**" په ذريعه د **مَدَني اِنعاماتو** رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني مياشتې په وړومبې تاريخ ئې د خپل ځائې ذِمَّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

**زما مَدَني مقصد:** "ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي." اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ

د ځان د اصلاح د پاره په "**مَدَني اِنعاماتو**" عمل او د ټولې دُنيا د اصلاح د پاره په "**مَدَني قافِلو**" کښې سَفَر کول دي. اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ








فيضانِ مدينه محلّه سوداګران زړه سبزي منډئ، بابُ المدينه (کراچئ)
UAN: +92 111 25 26 92 Ext: 1262
Web: www.dawateislami.net / E-mail: translation@dawateislami.net